# جنوبي وزيرستان زنګاړه عمليات؛ د تحريک طالبان پاکستان څو تنه ترهګر ووژل شول

د جنوبي وزيرستان د تحصيل لدها په زنګاړه کلي کې د ترهګرو د شتون په پټو معلوماتو د امنيتي ادارو بريالي عمليات۔ په سخته نښته او د ډزو په تبادله کې د ټي ټي پي اته ترهګر وژل شوي او پنځه ژوبل شوي دي۔

**دسرچينو له مخې د وزير سيمې (ګوهر ګروپ) سره تعلق لرونکي ترهګرو د وزير سيمو پرځاي په محسود سيمو کې په پټه د ترهګريزو عملياتو پلانونه جوړول او ترسره کول يې د ښځو او ماشومانو په ګډون د ځايي خلک د انساني ډال په توګه کارول۔**

**د عملياتو په مهال د ټي ټي پي بزدله ترهګرو د محسود قبيلې سره تعلق لرونکو ماشومانو د ډهال په توګه د کارولو کوشش وکړو چې له امله ئې دوه معصوم ماشومان شهيدان شول۔ دولتي ادارو د غم ځپلو کورنيو سره د مرستې او ملاتړ لپاره سمدستي ګامونه پورته کړي پداسې حال کې چې ټي ټي پي د بې وزلو خلکو سختۍ زياتوي۔ د ولس د غبرګون له وېرې د ترهګرو رهبري مجبوره ده چې ناسمې څرګندونې وکړي او دا نه شي ويلای چې ولې۸ قبرونه کيندل شول، کوم خلک پکې ښخ کړل شول او ولې د سيمې خلک هلته له تګ څخه منعه کړل شوي دي، ځايي خلک هم کوي او دا خبره يې تاييد کړې ده۔**

که د ټي ټي پي ترهګر د جګړې جرئت لري، نو ميدان ته دې راشي او د بې ګناه خلکو د ډال په توګه د استعمالولو پر ځای دې له امنيتي ادارو سره جګړه وکړي۔